**مطبوعاتي اعلاميه**

د حزب التحرير ولايه سوډان استازو له امام صادق مهدي سره ليدنه وکړه




(ژباړه)

**د حزب التحرير ولايه سوډان يوه استازي د ملي امت حزب له مشر امام صادق مهدي سره د ۲۰۱۹ ز کال د جنوري په آتمه ليدنه وکړه. د هيئت مشري په سوډان کې د حزب تحرير د مرکزي اړيکو د کميټې مشر ناصر رضا ورور په غاړه درلوده او د هيئت نور غړي يې عبارت وو له: د حزب تحرير ولايه سوډان مطبوعاتي دفتر وياند ابراهيم عثمان (ابو خليل)، د مرکزي کمېټې غړي هر يو عبدالله حسين، عبدالقادر، عبدالرحمن او محمد مصطفى. دا ليدنه د سياسي مخورو سره د ليدنو په لړ کې وه چې هغو موضوعاتو ته انعکاس ورکړي چې په سياسي فضاء اغېزه لري.**

**په ناسته کې د سوډان د اوسني خوځښت په هکله او دا چې له هغه سره څه وکړو خبرې اترې وشوې. د هيئت مشر واضح کړه چې حزب تحرير له درېيو مياشتو راپدې خوا د سوډان د پلازمېنې خرطوم په ګڼون په ډېرو ځايونو کې د (رښتنی بدلون يوه وعده او اړتيا ده) تر نامه لاندې يو لوی کمپاين پيل کړی دی، چې رښتنی بدلون يوازې د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت په راتلو سره رامنځته کېدای شي.**

امام له خپل لوري یاد هیئت ته یو لیکلی سند ورکړ چې په هغه کې یې د دې په هکله خپل نظر وړاندې کړی و چې څنګه ټول سوډان ژغورلی شي او په ځواب کې یې د حزب تحریر هیئت نوموړي ته د بدلون د راوستلو په هکله یو لیکلی پیغام ورکړ او د حزب تحریر ځینې نور نشرات چې امام ته نه وو رسېدلي هم ورکړل. د ناستې په پای کې په دې هوکړه وشوه چې د ټولو نوو پرمختګونو په هکله به له یو بل سره اړیکو ته دوام ورکوي.

ابراهیم عثمان (ابو خلیل)

د حزب تحریر ولایه سوډان

مطبوعاتي دفتر ویاند

۱۴۴۰ د جمادی اول دوهمه

۲۰۱۹ د جنوري آتمه

شمېره: ۱۴۴۰ / ۲۲